

# د قران کریم

# ځانګړتیاوي


لیکوال:

محمد جمیل زینو

ژباړن:

اندیال ساپی



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner



LARKHUD



Scanned by CamScanner

ریان کتابتون
Rayyan Library

په بریښنایي بڼه د کتاب خپرولو حق د اسلامي لاربنود ویب پاڼې سره خوندي دی

## د کـــتاب پیـــژندنه:

د کتاب نوم: د قران کریم ځانګړتیاوې
لیـــکوال : محمد جمیل زینو
ژبـــاړن : انـــدیال ساپی
کمـــپوز : اسیر مشوانی
چاپ کال : ۱۳۹۶/ لمریز ۲۰۱۷ م
چاپ شمیر : ۱۱۰۰
خپرندوی: شهباز خپرندویه ټولنه – جلال اباد افغانستان

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

# يو څو خبـــرې

الحمد لله والصلاة والسلام على عبده المصطفى وعلى آله ومن والاه أما بعد:

د الله جل جلاله په فضل او کرم ما د محترم ورور نورحبیب امیری هغه ژباړلې رساله وکتله چې قران کریم د ځانګړتیاوو په باره کې ستر عالم محمد جمیل زینو لیکلی ده.

یقینا ډیره مفیده او خوندوره ده، ما تری هم په کتلو کې استفاده وکړه، او خپل ټول پښتنو ورونو څخه هیله لرم چې له داسې رسالو او کتابونو څخه استفاده وکړي او خپل دینی راتلونکی روښانه کړي.

په پای کې مې له ټولو علماءو او لیکوالانو څخه هیله دا ده چې پدې لاره کې لیکنې او ژباړې وکړي او په دینی معلوماتو د پښتو ژبه لا بډایه کړي.

په درنښت

عبد العلیم فراست



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

## دڅېـــاړن ســـــريزه

الحمد لله الذي يخص من يشاء من عباده بما شاء من المحامد، ويوفق إلى الخير خلصاءه.

الحمد لله الذي جعلنا من أمة محمد صلي الله عليه وسلم وخصها بين الأمم، فجعلها خير أمة أخرجت للناس تأمر بالمعروف وتنهى عن المنكر وأرسل إليها خير رسله نبيه وصفيه وخليله محمد بن عبدالله صلي الله عليه وسلم، وأنزل عليها خير كتبه وأفضلها وأسماها وأعلاها.

أما بعد...

قران كريم هغه ستر، معجز او وروستی الهي كتاب دی، چې الله جل جلاله په خپل استازي او وروستي پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم د تايد او ډاډ لپاره د تلپاتې معجزې په توګه نازل كړ، تر څو دګردې نړۍ انسانان د كفر، شرک، بدعت، ظلم، زور، زياتي، بی اتفاقۍ او ناپوهۍ څخه دايمان، توحيد، سنت، عدل، يووالي او پوهې لور ته راوبلي، او بشريت د لارښوونې، كاميابۍ، سرلوړۍ او نجات سبب وګرځي.

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

لدې امله یې د نورو اسماني کتابونو څخه توپیر وموند او د داسې ځانګړنو لرونکی شو چې په مخکینو اسماني کتابونو کې یې شتون نه درلود.

په پښتو ژبه کې د قران کریم د بیلا بېلو موضوع ګانو په اړه جلا لیکنې شوي، خو دقران کریم د ځانګړتیاوو په اړه کومه ځانګړې لیکنه زما تر سترګو نشوه، نو پدې اساس مې هوډ وکړ تر څو دیادې موضوع په اړه عربۍ ژبې د نامتو لیکوال محمد جمیل زینو لنډه او هر اړخیزه مقاله پښتو ته وژباړم، ترڅو قران کریم د مینوالو تنده ورخړوب کړي.

د الله جل جلاله څخه سوال کوم چې دغه کوچنی عمل د لیکوال، ژباړن، او لوستونکو د ثواب سبب وګرځوي.

په پای کې د شهباز خپرندویه ټولنې مشرښاغلي حزب الله شهباز ساپي او د محترم ورور اسیر مشواڼي نړۍ مننه کوم چې دکتاب په چاپ کې یې راسره هر اړخیزه مرسته وکړه، کور یې ودان.

انـــدیال ســـاپی

اسلامي پوهنتون مدینه منوره

۲۰۱٦/۰۷/۰٦م



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

## لنـــــډیز

قران کریم ډېرې ځانګړتیاوې لري، چې الله جل جلاله پدې ایت کې بیان کړي، الله جل جلاله فرمایي:(( وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ (۴۱) لَا يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهِ تَنْزِيلٌ مِنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ)). فصلت: ۴۱-۴۲

ژباړه: یقینا دا قران یو پیاوړی کتاب دی، باطل نه مخامخ پرې راتلای شي او نه د شا لخوا، دحکیم او ستایل شوي ذات له لوري نازل دی.

رسول صلی الله علیه وسلم د قران په اړه فرمایي:" تَرَكْتُ فِيكُمْ شَيْئَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا بَعْدَهُمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّتِي، وَلَنْ يَتَفَرَّقَا حَتَّى يَرِدَا عَلَيَّ الْحَوْضَ "(۱).

ژباړه: په تاسو کې ما دوه شیان پریښي چې له هغې وروسته به بې لارې نشې، دالله کتاب او زما سنت، او هیڅکله به جلا نشې تر څو چې ما سره په حوض (کوثر) ووینې.

---

(۱) حاکم په مستدرک کې روایت کړي دحدیث شمیر (۳۱۹).



Scanned by CamScanner

د انګلستان پخوانی صدر اعظم جلادستون د قران په هکله وايې: ترڅو چې د مسلمانانو ترمنځ قران موجود وي نو اروپا نشي توانیدلای چې په ختیځې اسلامي نړۍ برلاسې شي.

WWW.LARKUD.COM



Scanned by CamScanner

## د قــران کــريم ځانــــګړتياوې

قران کريم دنورو الهي کتابونو په پرتله د زياتو ځانګړتياوو درلودونکی دی چې ځينې په لاندې ډول دي:

### (۱) لومړۍ ځانګړنه:

قرآن کريم دالله جل جلاله کلام دی او د الله جل جلاله له لوري په محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی، د فاتحې په سورت پيليږي او د ناس په سورت پای ته رسي.

### (۲) دوهمه ځانګړنه:

د قران کريم تلاوت او لوستل عبادت (بنده ګي) ده او په تلاوت يې لوستونکي ته ثواب رسي، ځکه رسول صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:" مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ، وَالحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا، لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ، وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ "(۱).

---

(۱) امام ترمذي روايت کړی دحديث شميره (۱۹۱۰).



WWW.LARKHUD.COM
Scanned by CamScanner

ژباړه: چا چې د الله جل جلاله له کتاب څخه يو حرف تلاوت کړ دهغه لپاره به نيکي وي او يوه نيکي به يې يو په لسه حسابيږي، دا زه نه وايم چې (الم) يو حرف دی بلکې الف ځانله ،لام ځانله او ميم ځانله حرف دی.

همدارنګه قران مجيد د زيات شمير سورتونو د لوستلو په غوره والي کې يو شمير صحيح حديثونه هم راغلي دي.

لکه د بقرې، آل عمران، ملك، کهف، اخري سورتونه او داسې نور ...

WWW.LARHKUD.COM

## (۳) دريمه ځانګړنه:

پرته د قران کريم له لوستنې لمونځ نه صحيح کيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:" لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ"[۱].

ژباړه: د هغه چالمونځ ناسم دی (نه کيږي) چې د فاتحې سورت و نه لولي.

(۱)امام بخاری روايت کړی د حديث شميره (۷۵٦).



Scanned by CamScanner

## (٤) څلورمه ځانګړنه:

قران کريم د هر ډول لاسوهنې او بدلون څخه سلامت او په امن کې دی.

الله جل جلاله فرمايلي دي:(( إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ)). الحجر:٩

ژباړه: يقينا مونږ قرآن نازل کړی او مونږ يې ساتنه کوو.

کوم چې نور اسماني کتابونه دي لکه تورات او انجيل، په هغې کې خپلو پيروړيانو لاسوهنه کړې او اصلي منځپانګه يې ورته بدل کړې ده.

WWW.LARHKUD.COM

## (٥) پنځمه ځانګړنه:

قران کريم له تناقض (ټکر) څخه سالم او ژغورل شوی، ځکه الله جل جلاله فرمايلي دي:(( أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا)). النساء:٨٢

ژباړه: ايا دوی په قران کې سوچ او فکر نکوي؟ که چيرته دا قران د بل چا له لوري وی نو هرو مرو به يې په دې کې زيات شمير اختلاف موندلي وی.



Scanned by CamScanner

## (٦) شپږمه ځانګړنه:

د زړه له تله د قران کريم زده کړه او حفظ اسانه دی ، په دې اړه الله جل جلاله فرمايلي:((وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ)).القمر:٤٠

ژباړه:بېشکه مونږ قران د نصيحت او يادونې لپاره اسان کړی، آيا شته څوک نصيحت قبلونکی؟.

## (٧) اوومه ځانګړنه:

قران کريم يو معجز (انسانان يې له جوړيدو عاجزه او ناتوانه دي) کتاب دی، هيڅوک نشي کولای چې دده د يو سورت په څېر بل سورت جوړکړي، الله جل جلاله يې عربو ته دجوړېدو چلنج (بلنه) ورکړه، هغوی ناتوانه شول او له جوړېدو يې پاتې راغلل.

الله عزوجل فرمايي:(( أَمْ يَقُولُونَ افْتَرَاهُ قُلْ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِثْلِهِ)).
يونس:٣٨

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

ژباړه: ایا ! دوی وایي چې دا قران یې له ځانه جوړ کړی؟ نو ته ورته ووایه که چېرته داسې وي نو دده د یو سورت په څېر سورت راوړئ.

(٨) اتمه ځانګړنه:

د قران کریم په لوستونکي باندې دالله جل جلاله له لوري رحمت، سکون او ارامتیا نازلیږي.

ځکه رسول صلي الله علیه وسلم فرمایلي:" مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ تَعَالَى، يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ"[١].

ژباړه:نه راټولیږي یو قوم د الله تعالی له کورونو څخه په یو کور کې، چې دالله جل جلاله کتاب لولي او په خپل مینځ کې یې په زده کړه بوخت وي، مګر په هغوي به دالله جل جلاله له لوري ارام او ډاډ نازل شي، د الله جل جلاله په رحمت کې به

---

(١) سنن أبي داود دحدیث شمیره(١۴۵۵).



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

پټ شي، ملائکې به تري چاپيره شي، او الله جل جلاله به يې د هغه چا په وړاندی يادونه وکړي چې له هغه سره دي(ملائکې).

(۹) نهمه ځانګړنه:

قران کريم يواځې د ژونديو لپاره دی نه د مړو لپاره.

الله جل جلاله د قران په اړه فرمايي:((لِيُنْذِرَ مَنْ كَانَ حَيًّا)). يس:۷۰

ژباړه: ددې لپاره چې ويره ورکړي دا قران هغه چاته چې ژوندی وي.

اوبل ځای فرمايي :(( وَأَنْ لَيْسَ لِلْإِنْسَانِ إِلَّا مَا سَعَى)). النجم:۳۹

ژباړه: نشته دانسان لپاره بدله (لامل د ثواب او عذاب د ژغورلو) مګر د هغه څه ده چې ده يې کوښښ کړی وي.

امام شافعي -رحمه الله- دپورتني ايت نه استدلال کوي او وايي: د قران د تلاوت بښلو (ډالۍ کولو) ثواب مړي ته نه رسي ځکه دا د دوی د عمل او کړنې څخه نه دی.

او کوم چې د اولاد تلاوت دی د هغه ثواب مور او پلار ته رسي ځکه اولاد د مور او پلار له کوښښ څخه وي.



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

لکه څرنګه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايلي :" أَنْتَ وَمَالُكَ لِأَبِيكَ"[1].

ژباړه: ته او مال دې دپلار يې.

دحديث په بل روايت کې راځي:"وَإِنَّ أَوْلَادَكُمْ مِنْ كَسْبِكُمْ"[2].

ژباړه: ستاسې اولادونه ستاسې له کړنې او کوښښ څخه دي.

## (١٠) لسمه ځانګړنه:

قران کريم زړه د منافقت او شرکي ناروغيو څخه ژغوري او ځينې سورتونه يې د بدني روغتيا لپاره هم راغلي، لکه د فاتحې سورت، اخري سورتونه (معوذتين) او داسې نور... چې په صحيحو حديثونو کې يې يادونه شوې ده.

له همدې امله الله رب العزت فرمايلي دي:(( يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَتْكُمْ مَوْعِظَةٌ مِنْ رَبِّكُمْ وَشِفَاءٌ لِمَا فِي الصُّدُورِ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ)). يونس:٥٧

---

(١) سنن ابن ماجه د حديث شميره(٢٢٩١).

(٢)سنن ابن ماجه د حديث شميره(٢٢٩٠).



Scanned by CamScanner

ژباړه: اى خلكو! يقينا دا قران تاسو ته د رب له لوري وعظ كونكى راغلى دى، د هغه څه لپاره درملنه ده چې په سينو كې دي او د مؤمنانو لپاره لارښونه او رحمت دى.

په بل ايت كې الله جل جلاله فرمايي:(( وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ مَا هُوَ شِفَاءٌ وَرَحْمَةٌ لِلْمُؤْمِنِينَ)). الإسراء:٨٢

ژباړه:مونږ نازلو قران چې د مومنانو لپاره درملنه او رحمت دي.

## (١١) يوولسمه ځانګړنه:

قران كريم دخپل لوستونكي لپاره دقيامت په ورځ دالله جل جلاله په وړاندې سپارش كوي.

ځكه پيغمبر صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي:"اقْرَءُوا الْقُرْآنَ، فَإِنَّهُ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَفِيعًا لِأَصْحَابِهِ"[١].

ژباړه: قران ولولي ځكه دا به د قيامت په ورځ راځي او د خپل لوستونكي لپاره به سفارش كوي.

WWW.LARKHUD.COM

---

(١) امام مسلم روايت كړى د حديث شميره (٢٥٢).



Scanned by CamScanner

## (۱۲) دولسمه ځانګړنه:

قران کریم په هغه اسماني کتابونو باندې څارونکی، ساتونکی، پریکړه کونکی دی چې د قران څخه مخکې نازل شوي دي.

په دې اړه الله جل جلاله فرمايي:(( وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ)). المائدة:٤٨

ژباړه:مونږ تا ته په رښتني سره کتاب (قران) راستولی دی، تائيدکونکی دی دمخکنيو کتابونو او په هغوی څارونکی دی.

امام حافظ ابن کثیر -رحمه الله- د مهيمن کلمې د تفسير په اړه د ويناو راټولولو نه وروسته وايي:"دا ويناوې ټولې سره نږدې معنې لري، چې د مهيمن کلمې ته شاملې دي، دا په مخکنيو کتابونو ګواه، پريکړه کونکی او ساتونکی دی.

دا ستر کتاب تر ټولو وروسته نازل شوی او داسماني کتابونو پای ده، دنيکبختۍ ټول شيان يې په ځان کې رانغښتي او تر ټولو پوره دی، هغه ښيګڼې پکې هم راټولې شوي چې په مخکنيو کتابونو کې يې شتون درلود، هغه د پام وړشيان پکې هم

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

ورزیات شوي دي چې په مخکنیو کتابونو کې موجود نه وو او الله جل جلاله یې دساتنې وعده کړې ده"[١].

## (١٣)دیارلسمه ځانګړنه:

قران کریم په خپلو ویناو کې رښتنې او په احکامو کې منصف دی.

الله جل جلاله ویلې دي:(( وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَعَدْلًا )).الأنعام:١١٥

ژباړه: ستا د رب وینا په رښتني او انصاف سره پوره شوه.

قتاده -رحمه الله- فرمایي:" الله جل جلاله په وینا او خبر ورکولو کې رښتنی دی، په غوښتنو کې منصف دی، د څه په اړه چې یې خبر ورکړي حق او ثابت دي، چې رښتنولي یې د لمر په څیر ځلانده ده، شک او ګمان پکې هیڅ ځای نلري، په څه چې یې امر کړي انصاف دی چې پرته لدې نور انصاف وجود نلري،

---

(١) تفسیر ابن کثیر (٢/٦٥).



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

له باطلو شیانو یې منع کړې او داځکه چې قران یواځې له باطلو شیانو منع کوي"[1].

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمایلي دي:(( يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ)). الأعراف:۱۵۷

ژباړه:دوی ته په نیکیو امر کوي او له بدیو یې منع کوي، ګټور او پاک شیان یې ورته حلال کړي، ناپاکه اوچټل شیان یې پرې حرام کړي.

## (۱٤) څوارلسمه ځانګړنه:

له کومو کیسو چې په قران کې یادونه شویده حقیقت او رښتنې دي، خیال او تصور ندی، دموسی علیه السلام او فرعون کیسه رښتني ده.

الله رب العزت فرمايي:(( نَتْلُو عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ)). القصص:۳

(۱) وګوره تفسیر ابن کثیر (۲/۱٦۷).



WWW.LARHKUD.COM

Scanned by CamScanner

ژباړه:مونږ بيانوو تا ته کيسه د موسى عليه السلام او فرعون په رښتني سره.

ددې په څير د غاروالو (اصحاب الكهف) کيسه هم رښتني ده الله جل جلاله فرمايي:(( نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُمْ بِالْحَقِّ)). الكهف: ۱۳

ژباړه: مونږ بيانوو تاته کيسه د دوي په ريښتني سره.

د هر څه په باره کې چې قران کريم کې الله رب العزت کيسې کړې ثابت او څرګند دي پدې اړه الله جل جلاله فرمايي:(( إِنَّ هَذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ)). آل عمران: ٦٢

ژباړه:يقينا دا بيان ريښتني او پرحقه دي (په دى کې دموسى عليه السلام مخکى ذکر شوى ټولو کيسو ته اشاره ده).

WWW.LARKHUD.COM

## (۱۵) پنځلسمه ځانګړنه:

قران کريم د دنيا او اخرت غوښتنې او تقاضې سره يو ځاى کړي، بشريت ته يې د انسانيت او نيکمرغۍ لار ورپه ګوته کړې، انسان يې ديته هڅولى تر څو د اخرت د تياريو ترڅنګ خپلې دنياوي چارې هم مخ په وړاندې بوځي.



Scanned by CamScanner

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايي:(( وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَأَحْسِنْ كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ)). القصص: ۷۷

ژباړه: په هغه څه کې د خپل وروستني کور لټون وکړه چې الله جل جلاله تاته درکړی، له دنيا څخه خپله برخه مه هيروه، دخلکو سره احسان وکړه لکه څرنګه چې الله جل جلاله له تاسره احسان کړی دی.

## (۱٦) شپاړسمه ځانګړنه:

په قران کريم کې دعقيدې، عباداتو، معاملاتو، احکاماتو، سياست او اقتصاد په اړه هغه ټول قوانين شتون لري چې د ټولې نړۍ بشريت ورته اړتيا لري.

همدا راز د ټولنيز ژوند پر مخ وړلو لپاره پکې د چارو د سمون او اصلاح او نورو اړونده مسائلو په هکله قوانين او احکام ذکر دي، چې د عملي کولو په صورت کې يې انسان د دخوښۍ او هوسا ژوند څخه برخمن کيدای شي.

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

الله جل جلاله فرمایې:(( مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ)). الأنعام: ۳۸

ژباړه: ماپه کتاب(قران)کې دهیڅ شي یادونه نده پریښې.

بل ځای الله جل جلاله فرمایې:(( وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ)). النحل: ۸۹

ژباړه:مونږ تاته کتاب دراستولی دی چې د هر څه بیانونکی دی، د مسلمانانو لپاره لارښونه، رحمت او زیری دی.

امام قرطبي رحمه الله د لومړني ایت د تفسیر په اړه لیکي:" له کتاب څخه مراد لوح محفوظ دی پدې کې ټول هغه حوادث(پیښې) ثبت دي چي وروسته واقع کیږي.

ځینې مفسرین وایي:" د کتاب نه مراد قران کریم دی یعنې مونږ په قران کې د اوامرو په اړه هیڅ ندي پریښي مګر په هغې مو دلیل راوړی دی یابه دا دلیل څرګند او واضحه وي او یا به په اجمالي توګه ذکر وي، چې تفصیل او بیان به یې درسول الله صلي الله علیه وسلم د احادیثو، اجماع او د هغه قیاس له لارې شوې وي چې د کتاب په نص سره ثابت وي، بیا وایي د الله رب العزت



Scanned by CamScanner

وینا رښتینې ده، په قران کې د هیڅ څه په اړه یادونه نده پاتې، بلکې هرومرو یې تفصیل یا تأصیلذکر شوی"[1].

امام طبري رحمه الله د وروستني ايت د تفسير لاندې ليکي:" ای محمده! مونږ پر تا قران نازل کړی چې د ټولو هغه مهمو شيانو څرګندونکی دی چې وګړي یې پیژندلو ته اړتیا لري.

لکه حلال، حرام، ثواب، عذاب، لارښوونه، بې لاریتوب، دهغه چا لپاره رحمت دی چې رښتونی یې وګڼي، د الله جل جلاله په ټولو اوامرو(حتی الوسع) عمل وکړي د منکراتو او نواهیو(منع شويو شيانو) څخه ځان وساتي، دالله جل جلاله او هغه د رسول پیروي وکړي او قراني لارښوونې عملي کړي،حلال ته حلال ووايي او حرام ته حرام"[2].

---

(۱) تفسير قرطبی (۶/۴۲۰).

(۲) تفسير الطبري (۸/۱۶۱).



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

(۱۷)ولسمه ځانګړنه:

قران کريم دانسانانو او پيريانو په نفسونو ځواکمن او غښتلی اثر لري.

داسلام په لمړيو کې دمشرکينو څخه زيات شمير کسان له قرانه متأثره شول او اسلام يې ديو سپيڅلې دين په توګه ومانه.

همدارنګه په اوسنيو وختو کې هم زيات شمير خلک له قرانه متأثره کيږي، دحقانيت څېړنه او سپړنه يې کوي، دژوند په چارو کې يې د احکاماتو پلې کيدو ته ليواله وي او په پای کې اسلام ته غاړه ږدي، دهغې کسانو کيسې زياتې دي چې دقران له اوريدو متأثره شوي اوداسلام مبارک دين يې قبول کړي دي.

دپيريانو دتاثير په اړه الله عزوجل فرمايي:(( إِنَّا سَمِعْنَا قُرْآنًا عَجَبًا (۱) يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا)). الجن:۱-۲

ژباړه: يقينا مونږ د ناشنا مضمون والا قران کريم اوريدلی، سمې لارې ته لارښوونه کوي ،مونږ پري ايمان راوړی او هيڅ چرته به دخپل رب سره شريک پيدا نه کړو.

د مشرکينو له ډلې څخه هم هغه کسان زيات دي چې دقران له اوريدو متأثره شوي خو اسلام يې ندی منلی.

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

وليد بن مغيرة به قران داوريدو پرمهال ويل: زما دپه الله قسم وي چې دا قران شعر، جادو، چټيات او ليونتوب ندی، بلکې دالله جل جلاله کلام دي، ددې لپاره خوږوالی او غښتلی اثر دی، دابه تل غالب وي او هيڅ شی پري غالب کيدای نه شي.

(۱۸) اتلسمه ځانګړنه:

په انسانانو کې ترټولو غوره هغه څوک دی چې قران کريم زده کړي او نورو ته يې وښايي.

پدی هکله رسول صلي الله عليه وسلم فرمايلې دي:"خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ"(۱).

ژباړه: غوره په تاسو کې هغه څوک دي چې قران زده کړي او نورو ته يې وښايي.

(۱) امام بخاری روايت کړی د حديث شميره (۵۰۲۷).

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

## (۱۹) نوولسمه ځانګړنه:

دقران کریم لوستونکی به له غوره ملائکو سره وي.

رسول صلي الله علیه وسلم ویلې دي:" الْمَاهِرُ بِالْقُرْآنِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ ويَتَتَعْتَعُ فِيهِ، وَهُوَ عَلَيْهِ شَاقٌّ، لَهُ أَجْرَانِ "[۱].

ژباړه: په قران باندی پوهه کس به له عزتمندو ملائکو سره وي، او هغه څوک چې قران کریم په سختۍ او تکلیف سره لولي دهغه لپاره دوه اجرونه دي، لومړي دتلاوت او دویم دتکلیف او مشقت.

## (۲۰)شلمه ځانګړنه:

قران کریم دانسانانو او پیریانو لپاره لارښونکی او زیري ورکونکی دی.

ځکه الله جل جلاله فرمایلې دي:(( إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ يَهْدِي لِلَّتِي هِيَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصَّالِحَاتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا)). الإسراء: ۹

(۱) امام مسلم روایت کړی د حدیث شمیره (۲۴۴).



WWW.LARHKUD.COM

Scanned by CamScanner

ژباړه: یقینا قران کریم سمې لارې ته لارښوونه کوي او هغه کسانوته زیری ورکوي چې نیک عملونه کوي چې ددوی لپاره لوی اجر دی.

(۲۱) یویشتمه ځانګړنه:

قران کریم انسان ته روحی خوښي، د زړه سکون، ډاډ، ثبات او ارام وربښی، یقین پرې پیاوړی کیږي،ګرد مؤمنان پدې عقیده دي چې قران کریم دزړونو دخوښۍ او سکون تر ټولو ستره وسیله ده چې خوښی دزړه ترتله رسوي.

الله جل جلاله پدی اړه فرمايي:(( الَّذِينَ آمَنُوا وَتَطْمَئِنُّ قُلُوبُهُمْ بِذِكْرِ اللَّهِ أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ)). الرعد: ۲۸

ژباړه: دا هغه کسان دي چې ایمان یې راوړی او ددوی زړونو ته دالله جل جلاله په یادونه(ذکر)تسلي حاصلیږي،یوازې دالله جل جلاله په یادونې سره زړونه ډاډ مومي.

کله چې مسلمان ته اندیښنه غم او تکلیف ورسي نو لازمه ده چې د خوږ غږلرونکی قاری په اواز قران کریم واوري لکه: منشاوي، عبد الرحمن السدیس او داسی نور...

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

همدا لامل دی چې رسول صلي الله علیه وسلم فرمایلي :" حَسِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ، فَإِنَّ الصَّوْتَ الْحَسَنَ يَزِيدُ الْقُرْآنَ حُسْنًا "(١).

ژباړه:قران کریم پخپلو اوازنو سره خایسته کړي، یقینا خوږ اواز دقران کریم ښکلا او ښایست لا زیاتوي.

که له یو پلوه قران کریم مؤمن ته روحي خوښي، سکون او ارام وربښي نو له بل پلوه دټولینزې او اخلاقي روزنې او اصلاح، د اذهانو د روښانولو او لارښونې دنده هم پر غاړه لري.

WWW.LARKHUD.COM

## (۲۲) دویشتمه ځانګړنه:

د قران کریم په زیاتو سورتونو کې دتوحید لور ته بلنه ورکړی شوې او په تیره بیا په عبادت کې توحید الوهیت ته لکه: دعا،کومک او مرسته غوښتل، لکه څرنګه چې یې مونږ د فاتحی سورت په پیل کې وینو الله جل جلاله فرمایې:(( إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ)). الفاتحة: ٥

ژباړه:مونږ خاص تالره عبادت کوو او خاص له تانه مرسته او کومک غواړو.

---

(١) سنن الدرامي د حدیث شمیره (٣٥٤٤).



Scanned by CamScanner

همدا رنګه د اخلاص،فلق، او ناس سورتونو په اخر کې په څرګنده توګه توحيد ښکاري، ددې برسيره دقران کريم په زياتو سورتونو کې د توحيد په اړه اياتونه شته لکه: د جن په سورت کې چې راغلي الله جل جلاله فرمايي:(( وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا)). الجن: ۱۸

ژباړه:جوماتونه يواځې دالله جل جلاله دعبادت لپاره دي، دالله تعالى سره بل څوک شريک مه رابولئ.

WWW.LARKHUD.COM

(۲۳) درويشتمه ځانګړنه:

قران کريم داسلامي شريعت لومړنى مصدر(سرچينه) دى چې داسلامي نظام او قانون مرجع ګڼل کيږي.

په محمد صلي الله عليه وسلم ددې لپاره نازل شوى ترڅو انسانان دظلم، زور، زياتي، شرک،کفر او ناپوهۍ له تيارو څخه دايمان، توحيد، عدل اومساوات رڼا ته راوبلي.

الله جل جلاله پدى اړه فرمايلي دي:(( كِتَابٌ أَنْزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ)). إبراهيم: ۱



Scanned by CamScanner

ژباړه:مونږ تاته دا کتاب ددې لپاره نازل کړی،ترڅو خلک د رب په حکم له تورتم څخه رڼا ته، او دهغه ذات لارې ته راوباسي چې ځواکمن او ستایل شوی دی.

دکوم وخت نه چې دقران کریم نزول پیل شو نو دټولنې څخه دناپوهی، ظلم او بی اتفاقۍ تغر ټول شو او پر ځای یې دعلم، پوهې، عدل، مساوات او اتحاد زرینې وړانګې وځلیدې.

## (۲۴) څلورویشتمه ځانګړنه:

قران کریم دپټو او ناڅرګنده شیانو څخه یادونه کړې او دهغه راتلونکو پیښو په اړه یې خبر ورکړی، چې دوحی پرته پرې علم او پوهه نه وي لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمایلې:(( سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ)). القمر: ٤٥

ژباړه: زر دی چې هغه ډله(مشرکین) به ماتې وخوري او ستاسې په لور به شاګانې کړي.

همدغه وه چې مشرکینو دبدر د غزا په ورځ ماتې وخوړه او دجنګ له میدانه وتښتیدل.

WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner

همدارنګه قران دډيرو پټو(غيبي) شيانو په اړه خبر ورکړی، چې وروسته هرومرو ثابت او څرګند شوي معنی دا چې قران کريم يو جامع او شامل کتاب دي چې ټولې ښيګنې يې په ځان کې رانغښتې دي.

## (۲۵) پنځوويشتمه ځانګړنه:

قران کريم د تلاوت دپيل په وخت (أعوذ بالله من الشيطان الرجيم) ويل، الله جل جلاله فرمايي:(( فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)). النحل: ۹۸

ژباړه: کله چې ته په قران لوستلو پيل وکړې، نو په الله پورې له رټل شوي شيطان څخه پناه وغواړه.

WWW.LARKHUD.COM

## (۲۶) شپږويشتمه ځانګړنه:

قران کريم ته غوږ نيول او چوپ کيدل واجب دي، الله رب العزت فرمايلي دي:(( وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ)). الأعراف: ۲۰۴



Scanned by CamScanner

ژباړه: کله چې ستاسې په وړاندې قران لوستل کیږي، نو هغه واورئ او چوپ اوسئ ښایي پر تاسو رحم وشي.
کله چې په تاسې قران لوستل کیږي نو هغه ته غوږ ونیسئ ترڅو پر ایتونو یې پوهه شی، اوهغه ته چوپ پاتې شئ ترڅو زده یې کړئ، ښایي رب پر تاسو رحم وکړي[1].

## (۲۷) اوه ویشتمه ځانګړنه:

قران کریم هر اړخیز او شامل کتاب دي، دمختلفو عامه موضوعاتو په یې اړه تګلاره اختیار کړې لکه: امر(غوښتنه)نهی(منع کول)وعده، ویره، تمثیل او وعظ د پټو شیانو په اړه څرګندونې، دکایناتو په اړه پوهه، انسان دبیا راژوندي کیدو اوحساب لپاره دیوځای راټولیدو دلایل.
خو که چیرته مونږ په قران کریم کې ددغې موضوعاتو په اړه فکر وکړو نو دبلاغت او فصاحت (ښکلا ، روښانتیا)په روستي پړاو کې به یې بیامومو،همدارنګه دنظم، توافق(یوځیوالی)او ورتوالی په روستي حد کې وینو،چې اخر یې له اوله سره او

(۱) تفسیر الطبري وګوره.



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

اول یې له اخرسره یو شان والی لري،لوستونکی یې دستړتیا احساس نکوي، دسوچ اوفکر خاوند په کې شک نکوي، ایمان او یقین پیاوړی کوي او دسمې لارې په لور لارښوونه

کوي، خو دا لدې امله چې قران کریم داړیکو اونږدې والی په وروستۍ پړاو کې دی چې اول یې داخر لپاره ریښتنولي ده.

دقران کریم اولنی نظم اوترتیب چې دبیلابیلو خپرندویه اوعلمی ټولنو او مختلفو چاپ خانو له لورې چاپیږی خوسره لدې یوشان ایتونه،سورتونه، معناګاني او موضوعات لري چې دا دقران کریم په ریښتنولي یو مادی دلیل دي چې دا دالله جل جلاله کتاب دی او دبشر په لاس ندې جوړشوي، چې دهر لوستونکی لپاره مناسب معلومات وړاندې کوي، اودهر ټولګې لپاره دپرلپسي فصلونو جلا باب پرانیزي، بلکي قران کریم دالهی وحی هغه ټولګه ده چې حکمت یې غوښتنه کړي او فطرت ورته خلک رابللي، هیڅ نیمګړتیا او تناقض په کې نه لیدل کیږي، او یو له بله سره داسی ورتوالی لري ته به وایي چې ګویا دا یوه موضوع ده[1].

---

(۱) وګوره رساله – موهم الاختلاف والتناقض في القران الكريم- د شیخ یاسر أحمد



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

پدی اړه شیخ زرقانی -رحمه الله- وایې:"هغه خلاصه او نچوړ چې مونږ یې دهر سورت او هرې برخې په اخر کې وینو او اوریدونکي ترپایه پورې خپلو اوریدو ته رابلي، هرګته اخستونکی ترې په مختلفو ډولو خپله ګټه اخلي داسې ده لکه څرنګه چې انسان په یو ښکلي باغ کې قدم وهي چې دبیلابیلو میوو ونې لري چې له یوې برخې نه بلې برخې ته په ورتلو له مختلفه میوو خوند اخلي، یاهغه دسترخوان چې له مختلفه خوراکونو ډک وي چې وږی انسان یې له مختلفو رنګونو خپله اړتیا پوره کوي"[۱].

دکتور محمد عبد الله دراز وایې:"کله چې ته یو اوږد منسجم سورت لولې، نو ناپوهه ګمان کوي چې مخلوطې معناګانې بی ځایه راټولې شوي، له خلکو جدا ودانې تصادفی یوځای شوي. خو کله چې ته سوچ وکړې نو د دې پیاوړي ودانۍ جوړښت د کلی مقاصدو پر اصولو او اساس شوي وي، چې هر اصل یې جلا برخې او فصلونه لري چې ته یې له یوې برخې نه بلې ته

---

علي الشمالي لیکنه.

(۱) وګوره مناهل العرفان (۱/۸۰).



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

داسې انتقالیږي لکه سړی چې په یوه ودانی کې له یوې خونی نه بلې ته انتقالیږي، چې په یو وخت ډیزائن شوي وي، په برابرولو او تقسیمولو کې یې د هیڅ شي ګډوډي نه احساسیږي، لکه څرنګه چې ته د یو واحد جنس په اجزاءو کې پوره یووالي وینې.

لدې هر څه ورخوا په ټوله کې سورت په یو ټاکلې لور روان وي، او په ګډه سره یو ځانګړی هدف وړاندې کوي، لکه څرنګه چې د ا نسان بدن دیوې تنی شکل اختیاروي، د یو ګډ هدف په وړاندې کولو کې له یو بل سره همکاري کوي سره لدې نه چې بدن دهر غړی وظیفه جدا وي[1].

پای

اندیال ساپی

د امام بخاری پوهنتون پیښور

۲۰/۰۶/۲۰۰۷م

(۱) وګوره النباء العظیم (مخ ۱۵۵).



WWW.LARKHUD.COM

Scanned by CamScanner

## مأخـــــذونه:


١ـ صحيح البخاري.

٢ـ صحيح مسلم.

٣ـسنن الترمذي.

٤ـ مستدرك الحاكم.

٥ـ تفسير ابن كثير.

٦ـ تفسير القرطبي.

٧ـ تفسير الطبري.

٨ـ موهم الاختلاف والتناقض في القران الكريم.

٩ـ النبأ العظيم.

١٠ـ مناهل العرفان.


WWW.LARKHUD.COM



Scanned by CamScanner